آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۸/۰۸

# بار مو تړلی و په سپیني ریبنکی

شیبي

ساتونه

ورځي شپي

میاشتي کلونه

سترګو رپ کي تیر شول،

کله چي ستړي شوو خپګان نه

یو او بل ته مو چي مخ واړاوه

تا زما سر

ما ستا وینتانو ته په ځیر ځیر کتل

د سترګو رپ کي سره پوه شوو

چي نا وخته شوله

زما و ستا د ځوانی مست پسرلي

خپل بار تړلی و نور

سپیني ریبنکی وي ورنه تاو

نور خلاصیدلای نه شوي

۲۰۱۴/۰۴/۲۷
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ